# A Research and Critical Analysis of Nizami Ganjwi's Poetry as Presented In " Tarikh -e - Murasa

## " تاریخ مرصع " کښې ذکر شوي د نظامي ګنجوي اشعار او د هغې تحقیقي او تنقیدي جائزه

Dr. Abdul Hakim Shah Khattak*

Abstract:

Pashto and Persian literature have historical associations. The advent of Persian literature in the subcontinent dates back to four hundredth Hijri. Persian literature came to the Subcontinent when Mahmood Ghaznavi attacked the subcontinent. The Clergy, Sofa, Poets and Monks that accompanied Mahmood Ghaznavi, spread Persian language, poetry and literature. Persian poetry and literature solidified its influence so much so that in later centuries Persian became the official language of the subcontinent.

Persian literature has produced an array of eminent and legendary literary personality. Niazami Ganjvi is one of these distinguished literary personas. He was born in the 535 Hijri and died in 599Hijri at Ganja. Nizami, for his inclusive, individualistic and idiosyncratic poetry holds prominent place among the Persian poets. Among Persian poets, Nizami is considered as the Imam of epic, philosophical, moral and sofiana poetry. Although, Nizami has also composed Qaseedas and Ghazals, but he is celebrated for his Masnavi. Nizami has written five Masnavies, which includes " Makhzan ul Israr ", " Khusro o Sherin ", " Laila o Ma Mjnu ", " Haft Pekar " and " Sikander Nama (Sharf Nama and Iqbal Nama) ".

Furthermore, in order to develop the associations between Pashto literature and Persian literature, Pashtoon academicians, poets and writers have taken assistance from Persian literature. Afzal Khan Khattak is one such academician who has composed the illustrious " Tareekh e Murassa ". The " Tareekh e Murassa " is composed of a collection of Persian poets and their works. The Book also carries works of Nizami Ganjvi. This paper critically analyze Nizami Ganjvi's poetry that included in Afzal Khan Khattak's " Tareekh e Murassa ".

د ژبپوهنې او ادبیاتو په رڼا کښې د نړۍ مختلفې ژبې په خپل مینځ کښې په څۀ نه څۀ رنګ کښې یو تر بله تړون لري۔ پښتو ادب هم د فارسي ادب سره ډېره پخوانے تړون لري۔ فارسي ادب په دې سیمه کښې د څلورمې هجري پېړۍ نه شروع اخلي۔ " د محمود غزنوي پلار سبکتګین د یورش په وجه په دې سیمه کښې د فارسي ژبې سر لګي۔ کله چې محمود غزنوي بیا بیا حملې وکړې نو دې سره سره دیني عالمان،صوفیان،قلندران او شاعران راغلل چې له وجې ئې فارسي ژبه،شعر او ادب هم مخې ته راغے۔" [i] د فارسي شعر و ادب دغه راتګ وروستو داسې مستحکم او مضبوط شو چې فارسي د دې سیمې سرکاري او دفتري ژبه وګرځېده او تر ډېرې مودې راهسې وه۔

* Lecturer in Pashto, Government Degree College Thall (Hangu).

فارسي ادب ډېر نامه وړي شاعران او اديبان پېدا کړي . په دې نوميالیو کښې يو نظامي گنجوي هم دے . تذکره نويسان او محققين د دهٔ د نوم ، پېدائش ، مړينې او ځاے ځائيگي په حقله اختلاف لري . ځينې وائي : ابومحمد ئې کنيت ، جمال الدين او نظام الدين ئې لقبونه، نظامي، حکيم نظامي او په نظامي گنجوي مشهور دے . خپل نوم ئې الياس بن يوسف يا احمد بن الياس بن ابي يوسف دے . د ټولو نه زيات مشهور قول دا دے چې الياس ئې نوم دے او يوسف ئې د پلار نوم دے . اصل کښې د قم وهٔ . خو د آذربائجان ، گنجه ئې مسکن ، موطن او مدفن شو . د وفات کال متعلق ئې پينځهٔ قولونه دي[ii] . د رضيه اکبر د تحقيق مطابق گنجه د آذربائيجان ښکلې برخه ده نظامي دلته پېدا شو او د دې نسبت له وجې گنجوي يادېږي[iii] . خپل نوم ئې الياس د پلار نوم ئې يوسف ؤ . په کال **۵۳۵**هجري کښې زېږېدلے او **۵۹۹** هجري کښې په گنجه کښې وفات شوے[iv] . ځينې ئې **۶۰۲** هجري د وفات کال يادوي[v] . ځينې ليکي : ابومحمد الياس بن يوسف بن مؤيد معروف به نظامي گنجوي... **۵۲۲**هجري کښې گنجه نومې ښهر کښې پېدا شو او **۶۰۳** هجري کښې هم په دې ښهر کښې وفات شو[vi] . په هر حال د نوم ، پېدائش ، مړينې او ځاے ځائيگي اختلاف په خپل ځاے ولې نظامي د خپل جامعيت ، ځانگړي اسلوب او د شاعرۍ جدا اوصافو په حواله فارسي ادب کښې نن هم جوت او ځرگند دے . د نظامي د جامعيت په حقله شبلي نعماني ليکي:

*" ایران میں جس قدر شعراء گزرے ہیں وہ خاص خاص انواع شاعری میں کمال رکھتے تھے۔ - - - بخلاف اس کے نظامی نے رزم، بزم، فلسفہ، عشق، اخلاق سب کچھ لکھا ہے اور جو کچھ لکھا ہے لاجواب لکھا ہے۔ "* [vii]

ترجمه:

ايران کښې چې څومره شاعران تېر شوي هغوي د شاعرۍ په خاص خاص قسمونو کښې کمال لرلو... ولې د دې خلاف نظامي رزم، بزم ، فلسفه، عشق او اخلاق ټول وليکل (په ټولو موضوعاتو ئې ليک وکړو) او چې کوم څهٔ ئې ليکلي لاجواب ئې ليکلي .

د دهٔ د ځانگړي اسلوب او جدا اوصافو په حقله رضيه اکبرحسن ليکي:

*" ایک جداگانہ صنف بزم نگاری کی مستقل بنیاد بھی رکھی اور خود ہی اسے ایک ایسی منزل تک بھی پہنچادیا کہ تقریباً ایک ڈیڑھ صدی تک کسی کو انکی تقلید کرنے کی بھی جرات نہ ہوئی، اسی بناپر نظامی کو عشقیہ شاعری کا شہنشاہ مانا جاتا ہے۔ "* [viii]

ترجمه:

د يو جدا صنف بزم نگارۍ مستقل بنياد ئې هم کښېښودو او په خپله ئې داسې منزل ته ورسوو چې اندازاً يوې پېړۍ پورې چا هم د دهٔ تقليد ونهٔ کړے شو، له دې کبله نظامي د عشقيه شاعرۍ شهنشاه منلے شي .

نظامي گنجوي قصيدې او غزلونه ليکلي . ديوان ئې د دکتر برات زنجاني په زيار، د موسسهٔ انتشارات دانشگاه تهران نه ۱۳۹۱ کال کښې چاپ دے . ولې " د نظامي گنجوي د شهرت وجه مثنوي ده "[ix] . علامه مېرزا

محمد علي مدرس نظامي ګنجوي د مثنوي امام یاد کړے[x]. پنځهٔ مثنویانې ئې لیکلې دي چې لاندې د دې پینځهٔ واړو مختصر تعارف وړاندې کولے شي(*):

1. مخزن الاسرار : دا د نظامي ګنجوي وړومبۍ مثنوي ده. ۵۵۲ هجري ئې د تصنیف کال دے. موضوع ئې اخلاق او تصوف دے. انتساب ئې د بهرام شاه په نوم دے چې هغه وخت د اذربائجان حاکم وهٔ[xi]. عبدالکریم علي اوغلي علي زاده د ۱۲ نسخو (قلمي او چاپ) نه د دې انتقادي متن تیار کړے دے. دغه انتقادي متن کال ۱۹۲۰ کښې د اذربائیجان د فرهنګستان علوم جمهوري نه چاپ دے.
2. خسرو و شېرین : دا د نظامي ګنجوي دوېمه مثنوي ده. د رومانوي شاعرۍ او داستان له مخه دا د وړومبۍ مثنوي ده. ۵۷۲هجري ئې د تصنیف کال دے. د دې انتساب د قزل ارسلان په نوم دے[xii]. الکساندرووېچ خه تاقوروف د ۱۱ نسخو (قلمي او چاپ) نه د دې انتقادي متن تیار کړے دے. دغه انتقادي متن کال ۱۹۲۰ کښې د اذربائیجان د فرهنګستان علوم جمهوري نه چاپ دے.
3. لیلی و مجنون : دا د نظامي ګنجوي درېمه مثنوي ده. د رومانوي او عشقیه شاعرۍ او داستان له مخه دا دوېمه مثنوي ده. دا مثنوي ئې ۵۸۴هجري کښې تصنیف کړې ده. د دې انتساب د ابوالمظفر شروان شاه احسان بن منوچهر په نوم دے[xiii]. ما ته دا مثنوي په کتابي صورت کښې په لاس رانغله. د اي بک (ebook) په صورت کښې مې استفاده ترې کړې ده.
4. هفت پیکر : دا د نظامي ګنجوي څلورمه مثنوي ده. د رومانوي او عشقیه شاعرۍ او داستان له مخه دا درېمه مثنوي ده. دا مثنوي ۵۹۳هجري کښې تصنیف شوې ده. د دې انتساب د علاؤالدین کرب ارسلان په نوم دے[xiv]. دکتر برات زنجاني د ۲۱ نسخو (قلمي او چاپ) نه د دې انتقادي متن تیار کړے دے. دغه انتقادي متن پاییز ۱۳۸۰ کال کښې په دوېم ځل د موسسه انتشارات و چاپ دانشګاه تهران نه چاپ دے.
5. اسکندرنامه : دا د نظامي ګنجوي پنځمه مثنوي ده. دا رزمیه مثنوي ده. د ژوند په اخري ورځو شپو کښې کال ۵۹۹هجري کښې ئې تصنیف کړې ده. دا په دوو حصو وېشلې شوې ده. وړومبۍ حصه ئې شرفنامه یا اسکندرنامه بري بللے شي. دوېمه حصه ئې اقبال نامه یا اسکندرنامه بحري نومېږي. شرفنامه ئې د تبریز حاکم اتابک ابوبکر نصرة الدین منسوب کړې ده. اقبال نامه ئې عزالدین مسعود بن ارسلان سلجوقي ته منسوب کړې ده[xv]. دکتر برات زنجاني د شرفنامې او اقبال نامې انتقادي متن تیار کړے دے. د شرفنامې دغه انتقادي متن تابستان ۱۳۸۰ کال کښې په اول ځل ، د اقبال نامې انتقادي متن تابستان ۱۳۸۱ کال کښې په اول ځل د موسسه انتشارات و چاپ دانشګاه تهران نه چاپ دے.

* . لوستونکي باید دا خبره په نظر کښې وساتي چې محققین د نظامي د مثنویانو د تکمیل کالونو په حقله هم اختلاف لري. بره ورکړې شوي مختصر تعارف کښې دلته یواځې د رضیه اکبرحسن تحقیق نه استفاده شوې ده.

دا پینځهٔ واړه مثنویانې د پنج گنج او د خمسهٔ نظامي په نوم شهرت لري. د کلیات خمسه نظامي او د خمسه نظامي په نوم په یوه مجموعه کښې چاپ دي. په یوه موقع مې پېښور پوهنتون فارسي ډیپارټمنټ کښې دغه مجموعه کتلې وه.

لکه وړاندې مو لیکلي چې د پښتو ادب او فارسي ادب تعلق او تړون ډېر پخوانے دے. د دې تړون له کبله پښتنو پوهانو، شاعرانو، ادیبانو او لیکوالانو د فارسي شعر او ادب نه استفاده کړې ده. په دې پوهانو کښې یو افضل خان خټک هم دے چې د "تاریخ مرصع" مولف دے. دهٔ په خپل تالیف کښې د فارسي سخنورانو د سخن نه استفاده کړې ده. په دې سخنورانو کښې یو سخنور نظامي گنجوي هم دے. په دې تحقیقي او تنقیدي لیک کښې د نظامي گنجوي د مذکوره تصنیفاتو له مخه د هغه شعرونو تحقیقي او تنقیدي جاج اخستے شي کوم چې افضل خان خټک په " تاریخ مرصع " کښې راوړي دي.

یاده دې وي چې په دې لیک کښې د " تاریخ مرصع " د هغه نسخې نه استفاده شوې ده کومه چې دوست محمدخان کامل مومند مرتب کړې ده. مقابله ، تصحیح او نوټونه ئې پرې لیکلي دي. دا نسخه د یونیورسټي بک ایجنسي پېښور نه مئ ۲۰۰۲ء کښې د جدون پرېس پېښور نه چاپ ده. د نظامي گنجوي د کلام بره ذکر شوې مثنویانې "مخزن الاسرار"، "خسرو شېرین" ، "لیلی و مجنون" ، "هفت پیکر" او "اسکندرنامه (شرفنامه ، اقبال نامه)" په کار راوستې شوې دي. اوس د شعرونو تحقیقي او تنقیدي جاج ته پام راګرځوو :

1. تاریخ مرصع: ۷۱:

از هر چه طلب کنی شب و روز  بیش از همه نیک نامی اندوز

دا شعر د مثنوي لیلی و مجنون په څلورڅلوېښتم بخش "ختم کتاب به نام شروانشاه " عنوان لاندې په ۲۰۴ مخ راغلے.

2. تاریخ مرصع مخ ۷۲ :

سری کردن از مردم از مردمیست  وگرنه همه آدمي آدمي است

دا شعر په شرفنامه کښې د "سگالش اسکندر بر قهر دارا " عنوان لاندې په ۷۲ مخ لیکلے.

3. تاریخ مرصع مخ ۷۲ :

بیا تاز بیداد شوبیم دست  که بیداد نتوان زبیداد رست
سکندر بانصاف نام آورست  وگر نه ز ما هر یک اسکندر است
ترا ایزد از بهر عدل افرید  ستم ناید از شاه عادل پدید
شهر و سپه را چو شوی نیک خواه  نیک تو خواهد همه شهر و سپاه
خانه بر ملک ستم گاریست  دولت باقي زکم آزاریست

مملکت از عدل شود پائیدار    کار تو از عدل تو گیرد قرار
عمر بخشنودیٔ دلها گزار    تا ز تو خوشنود شود کردگار
داد ستاني کن و درمان دهي    تا تو ستانند به فرمان دهي
هر که درین خانه شبے داد کرد    خانۀ فردائے خود اباد کرد
عدل تو قندیل شب آویزے است    مونس فردائے تو امروزے است
دست بدار از سر بیچارگان    تا نخوري پاسخ غمخوارگان
داد درین دور پرانداخت است    در پر سیمرغ وطن ساخت است

دلته افضل خان ۱۲ شعرونه په یو ځاے داسې نقل کړي چې ټول د یوې مثنوي شعرونه او ترتیب وار شعرونه ښکاري. دا په اصل کښې د مختلفو مثنویانو د مختلفو موضوعاتو شعرونه دي. د مخونو شمېرې ئې مختلفې دي.

وړومبي ۲ شعرونه په شرفنامه کښې داسې راغلي چې وړومبے شعر ئې په ۷۸ مخ د " خراج خواستن دارا از اسکندر " سرخط لاندې راغلے خو هلته د " شوبیم " په ځاے " شوییم " لیکلي. دوېم شعر په ۱۷۹ مخ د " جواب نامۀ خاقان به اسکندر " سرخط لاندې راغلے خو هلته د " وگرنه " په ځاے " وگرنی " لیکلي.

دریم شعر په اقبال نامه کښې په ۷۰ مخ د " خردنامۀ ارسطو " سرخط لاندې لیکلے.

باقي شعرونه د مثنوي مخزن الاسرار دي.

څلورم او پینځم شعر په مخزن الاسرار کښې په ۹۳ مخ، مقالت دوم کښې د " درمحافظت عدل و نگاه داشتن انصاف " سرخط لاندې راغلے خو هلته د " ستم گار " په ځاے " ستم کار " لیکلي.

شپږم شعر په ۹۴ مخ ، مقالت دوم کښې د " درمحافظت عدل و نگاه داشتن انصاف " سرخط لاندې راغلے.

اووم شعر په ۹۸ مخ ، مقالت دوم کښې د " حکایت نوشېروان عادل باوزیر " سرخط لاندې راغلے، خو هلته په دوېمه مصرعه کښې د " خوشنود شود " په ځاے " خوشنود بود " لیکلي. محقق دغه شعر ته په اختلاف نسخ کښې په حاشیه لیکلي : " ث ج د : شود ".

د اختلاف نسخ نه دا څرګندېږي چې په ځینې نسخو کښې " شود " ټکے راغلے. کېدے شي افضل خان خټک داسې نسخه کتلې وي چې هغې کښې " شود " لیکلي وي.

اتم شعر په ۹۹ مخ ،داسې راغلے چې د اووم شعر او اتم شعر په مینځ کښې یو شعر بل شته. دغه اتم نمبر شعر په مخزن الاسرار کښې داسې لیکلے:

سایۀ خورشید سواران طلب    رنج خود و راحت یاران طلب
درد ستاني کن و درماندهي    تا ت رسانند به فرماندهي

نهم شعر په ۱۱۰ مخ ، مقالت چهارم کښې د " در حسن پادشاه درحق رعیت " سرخط لاندې راغلے. د محزن الاسرار محقق علي زاده د دې عنوان اختلاف نسخ په حاشیه کښې ذکر کړے دے. په مختلفو نسخو کښې دغه عنوان په مختلفو الفاظو لیکلے دے. [وګورئ: محزن الاسرار، مخ ۱۰۸]

لسم شعر په ۱۱۳ مخ، مقالت چهارم کښې د " داستان پیرزن باسلطان سنجر " سرخط لاندې راغلے. په محزن الاسرار کښې داسې لیکلے:

عدل تو قندیل شب افروزتست　　مونس فردای تو امروز تست

محقق دغه شعر ته په اختلاف نسخ کښې په حاشیه لیکلي : " ج : افروزیست ، خ: افروز شد . ". د دوېمې مصرعې په حاشیه کښې ئې لیکلي : " ج : امروزیست. "

یولسم او دولسم شعر په ۱۱۴ مخ لیکلي. د لسم شعر او یولسم شعر په مینځ کښې یو شعر بل شته. په محزن الاسرار کښې د " پاسخ " په ځائے " یاسج " لیکلي. محقق د دې اختلاف نسخ کښې لیکلي: " ث ج چ خ : پاسخ ، ح: ناوک ، د ذ: ناچخ ".

د اختلاف نسخ نه دا څرګندېږي چې په ځینې نسخو کښې " پاسخ " ټکے راغلے. کېدے شي افضل خان خټک داسې نسخه کتلې وي چې هغې کښې " پاسخ " لیکلي وي.

د یولسم او دولسم شعر په مینځ کښې شپږ شعرونه نور شته. یعني په محزن الاسرار کښې د دې دواړو شعرونو ترمینځه نور شعرونه هم شته.

4. تاریخ مرصع مخ ۷۳ :

دین چو بدنیا بتواني خرید　　کن مکن دیو نبایدشنید
آنکه ترا توشۀ ره میدهد　　از تو یکے خواهد و ده میدهد

افضل خان دا شعرونه د مثنوي سر خط لاندې راوړي. دا د محزن الاسرار شعرونه دي. دا شعرونه مقالت دوم کښې د " درمحافظت عدل و نګاه داشتن انصاف " عنوان لاندې په ۹۲ مخ لیکلي. هلته دا دواړه شعرونه متصل نۀ دي. په مینځ کښې دوه شعرونه نور لري.

5. تاریخ مرصع مخ ۷۵ :

دشمن دانا که پے جان بود　　بهتر ازان دوست که نادان بود

دا شعر په محزن الاسرار کښې مقالت شانزدهم " درچابک روی " عنوان لاندې داسې لیکلے چې وړومبۍ مصرعه کښې د " پے جان " په ځائے " غم جان " لیکلي. محقق دغه شعر ته په اختلاف نسخ کښې په حاشیه لیکلي : " ز: پی ".

د اختلاف نسخ نه دا ښکاره کېږي چې په ځينې نسخو کښې " پی " ټکي راغلي. کېدے شي افضل خان خټک داسې نسخه کتلې وي چې هغې کښې " پی " ليکلي وي.

6. تاريخ مرصع مخ ۷۲ :

از صحبت بادشاه به پرهيز گوباشد گاه نرم و گه تيز

دا شعر مثنوي ليلی و مجنون کښې ليکلے. د دې شعر وړومبۍ مصرعه د يو شعر ده. دوېمه مصرعه ئې بل شعر ده. د دې شعر وړومبۍ مصرعه د ليلی و مجنون په لسم بخش " ياد کردن بعضی از گذشتگان خويش " عنوان لاندې په ۴۵مخ، د راغلي يو شعر وړومبۍ مصرعه ده. مکمل شعر داسې دے:

از صحبت پادشه به پرهيز چون پنبه خشک از اتش تيز

د افضل خان مذکوره شعر دوېمه مصرعه د ليلی و مجنون په څلورڅلوېښتم بخش " ختم کتاب به نام شروانشاه " عنوان لاندې په ۲۰۴مخ، د راغلي يو شعر دوېمه مصرعه ده. مکمل شعر داسې دے:

از صحبت آن کسی به پرهيز کو باشد گاه نرم و گه تيز

د مشابهت په وجه د بېلا بېلو شعرونو بېلا بېلې مصرعې په يو شعر کښې راوړې شوې دي.

7. تاريخ مرصع مخ ۷۲ :

گر از هر باد چون بيدے بلرزی اگر کوهی شوی کاهے نيرزی

دا شعر د خسرو شيرين په " باز گشتن خسرو از قصر شيرين بنوميدی " عنوان لاندې په ۲۰۲مخ ليکلے. محقق دغه شعر ته په اختلاف نسخ کښې په حاشيه ليکلي: " ت د پ ث ح ر : چون کاهی، خ: چون کاهی برآئی ". په دوېمه مصرعه کښې ليکلي: " ث: اگر کاهی شوی کوهی نيرری ".

د اختلاف نسخ نه دا ښکاره کېږي چې په ځينې نسخو کښې د "چون بيدی" په ځاے "چون کاهی" ټکي راغلي. په ځينو نسخو کښې دوېمه مصرعه داسې هم راغلې ده : "ث: اگر کاهی شوی کوهی نيرری ".

8. تاريخ مرصع مخ ۷۹ :

قادر شود بردباري باش مے خورد هوشياري مي باش

دا شعر مثنوي ليلی و مجنون کښې ليکلے. څلورڅلوېښتم بخش " ختم کتاب به نام شروانشاه " عنوان لاندې په ۲۰۳مخ ليکلے. دوېمه مصرعه ئې داسې ليکلې ده:

می می خور و هوشيار می باش

9. تاريخ مرصع مخ ۷۹ :

سپاهي که خوشدل نباشد زشاه ندارد حدود ولايت نگاه

برکشتن آنکه باز و شاهین است تعجیل مکن اگر چه خونین است

په دې شعرونو کښې وړومبې شعر د سعدي شیرازي دے ـ دوېم شعر د نظامي ګنجوي د مثنوي لیلی و مجنون کښې لیکلے ـ څلورڅلوېښتم بخش " ختم کتاب به نام شروانشاه " عنوان لاندې په ۲۰۴ مخ لیکلے ـ هلته په لږ توپیر داسې لیکلے :

برکشتن آنکه باز بو نیست تعجیل مکن اگر چه خونیست

10.تاریخ مرصع مخ ۱۴۴ :

سکندر شهے هفت کشور نماند نماند کسے چون سکندر نماند

دا شعر په شرفنامه کښې د " فرو گفتن جملۂ داستان بطریق ایجاز " عنوان لاندې په ۴۸مخ لیکلے دے ـ دا بېت افضل خان د سکندرلودي په احوال کښې لیکلے دے ـ لکه څنګه چې دا معلومه ده چې د " تاریخ مرصع" څۀ برخه د نعمت الله هروي د کتاب " تاریخ خان جهاني و محزن افغاني" ترجمه ده ـ دغه بېت نعمت الله هروي د سکندر لودي د مړېنې نه پس بغېر د شاعر نوم رانقل کړے دے [xvi] ـ د نعمت الله هروي نه وړاندې عبدالقادر بدایوني په " منتخب التواریخ" کښې [xvii]، عبدالله په " تاریخ داؤدي" کښې [xviii] هم نقل کړے دے ـ

دا بېت په اصل کښې نظامي ګنجوي په سکندرنامه کښې د شرفنامې په برخه کښې د سکندراعظم په باب راوړے دے ـ

11.تاریخ مرصع مخ ۱۴۲ :

مبارک بود فال فرخ زدن نه بر رخ زدن بلکه شه رخ زدن
چو عاجز شود مرد چاره سگال زبیچارگي درگریزد بفال
به بهبود زن فال کان سودتست که فال نکو اصل بهبودتهست

دا شعرونه په شرفنامه کښې د " رفتن اسگندر به ملک عرب و زیارت کعبه " عنوان لاندې په ۱۲۸ مخ داسې لیکلي چې یو بل پسې جخت نۀ دي ـ مینځ کښې ئې نور شعرونه شته ـ دلته چې کوم دریم شعر دے ـ په شرفنامه کښې داسې لیکلے :

ز به باد زن فال کان سود تست که به باد تو اصل بهبود تست

12.تاریخ مرصع مخ ۱۵۴ :

دلا تا بزرگي نیاري بدست بجاے بزرگان نه باید نشست

دا شعر په شرفنامه کښې د " درشرف این نامه و تضرع نمودن و نیایش باری " عنوان لاندې په ۳۵ مخ لیکلے ـ دوېمه مصرعه ئې داسې لیکلې ده :

نشاید به جاے بزرگان نشست

13. تاریخ مرصع مخ ۱۵۵:

راستی آور که شوی رستگار راستی از تو ظفر از کردگار

دا شعر په مخزن الاسرار کښې مقالت چهاردهم کښې د "داستان پادشاه ظالم بازاهد" عنوان لاندې په ۱۹۲ مخ لیکلے.

14. تاریخ مرصع مخ ۱۲۸:

فلک ناقه را ازان سبک رو کند که هر ساعتش بازئ نوکند

دغه شعر افضل خان په خپله د شیخ نظامي ګنجوي یاد کړے. دا شعر په شرفنامه کښې د "فرستادن اسکندر روشنک را با دستور خود بیونان" عنوان لاندې په ۱۲۵ مخ لیکلے. دوېمه مصرعه ئې داسې لیکلې ده:

که هر روز و شب بازیی نوکند

15. تاریخ مرصع مخ ۱۲۹:

که داند که فردا چه خواهد رسید یده که خواهد شدن ناپدید
کرا مرده از خانه بر در نهند کرا تاج اقبال بر سر نهند

دغه شعرونه هم افضل خان په خپله د شیخ نظامي یاد کړي. دا شعرونه په شرفنامه کښې د "جنګ دارا با اسکندر" عنوان لاندې په ۹۲ مخ لیکلي. د وړومبي شعر دوېمه مصرعه ئې داسې لیکلې ده:

ز دیده که خواهد شدن ناپدید

محقق دغه شعرونو ته په اختلاف نسخ کښې په حاشیه لیکلي: "۳: زدیدن که".
د دوېم شعر د وړومبۍ مصرعې په باب اختلاف نسخ کښې لیکلي:

"۱. که را مرده از خانه. ۲. لباد که از خانه بر در.
۳. کباده که از خانه بر خر. ۴. لباد که از خانه بر خر."

16. تاریخ مرصع مخ ۱۸۰:

رخنه گر ملک بر افگنده به لشکر به عهد پراگنده به

دغه شعر په مخزن الاسرار کښې مقالت پانزدهم کښې د "حکایت پادشاه زاده" عنوان لاندې په ۱۹۹ مخ لیکلے. په وړومبۍ مصرعه کښې د "برافگنده" په ځاے "سر افگنده" راغلي. په دوېمه مصرعه د "به عهد" په ځاے "بدعهد" راغلي. محقق وړومبۍ مصرعې ته په حاشیه لیکلي: "رخنه کن". یعني په ځینو نسخو کښې د "رخنه گر" په ځاے "رخنه کن" راغلي.

17.تاریخ مرصع مخ ۱۸۲:

ازپی آنست که شد پیش بین     خانه زنبور پر از انگبین

افضل خان دغه شعر په خپله د نظامي یاد کړے. دا شعر محزن الاسرار کښې مقالت نهم "در بزرگ منشي و بلند همتی" عنوان لاندې په۱۴۲ مخ هم په دغه الفاظو په دغه ترتیب راغلے.

18.تاریخ مرصع مخ ۲۰۲:

دو دل یک شود بشکند کوه را     پراگندگی آرد انبوه را

علي اکبر دهخدا دغه شعر هم په دغه الفاظو په امثال و حکم کښې د نظامي یاد کړے[xix]. دا شعر د نظامي گنجوي په شرفنامه کښې په ۷۵مخ راغلے. وړومبۍ مصرعه ئې داسې ده:

دو درزی ز دل بشکند کوه را

افضل خان دغه شعر د تاریخ مرصع په ۴۴۷ مخ هم راوړے دے. په دغه مخ ئې وړومبۍ مصرعه داسې لیکلې ده:

دو تن یک شود بشکند کوه را

19.تاریخ مرصع مخ ۲۷۴:

درین باغ رنگین درختے نرست     که ماند از قضائے تبرزن درست

دا شعر په شرفنامه کښې "خراج خواستن دارا از اسکندر" عنوان لاندې په۷۹ مخ راغلے. هلته د په دوېمه مصرعه کښې د "قضای" په ځاے "قفای" لیکلي.

20.تاریخ مرصع مخ ۲۸۹:

چو در لشکر دشمن آری رحیل     به مرغان کشی فیل و اصحاب فیل

دا شعر په شرفنامه کښې په شروع کښې راغلے. اتۀ دېرشم شعر دے. په۲۴ مخ راغلے.

21.تاریخ مرصع مخ ۳۲۰:

دوستي از دشمن طبعي مجوئی     آب حیات از دم افعي مجوئي

دا شعر په محزن الاسرار کښې مقالت شانزدهم "درچابک روی" عنوان لاندې په۲۰۲ مخ راغلے. هلته په وړومبۍ مصرعه کښې د "طبعی مجوئی" په ځاے "معنی مجوئی" لیکلي.

22.تاریخ مرصع مخ ۳۴۲:

که داند که این خاک دیرینه قدر     بهر غاری اندر چه دارد زغدر

کهن کیسه شد خاک پنهان شکنج     که هر گز بردن نارد آواز گنج

دا شعرونه په شرفنامه کښې د ''کشته شدن دارا بدست سرهنگان خویش'' عنوان لاندې په۱۰۲ مخ راغلي. هلته په د وړومبي شعر په وړومبۍ مصرعه کښې د ''دیرینه قدر'' په ځاے ''دیرینه دور'' ، په دوېمه مصرعه کښې د ''زغدر'' په ځاے ''زغور'' لیکلي. د دوېم شعر په دوېمه مصرعه کښې د ''بردن'' په ځاے ''برون'' لیکلي.

23.تاریخ مرصع مخ ۳۴۸:

که باهیچ ناداشت کشتی مگیر فریبی فرستش که طاعت کند

دلته دا په یو شعر کښې رانقل شوے. دا د بېلا بېلو شعرونو بېلې بېلې مصرعې دي. دواړه شعرونه په شرفنامه کښې راغلي. دلته وړومبۍ مصرعه د ''رفتن اسکندر برسولی بنزدیک نوشابه'' عنوان لاندې په۱۳۷ مخ لیکلې ده. مکمل شعر داسې دے:

چنین آمدست از نقیبان پیر که باهیچ ناداشت کشتی مگیر

دوېمه مصرعه د ''رای زدن دارا باخاصگان خویش'' عنوان لاندې په۸۲ مخ په لږ فرق لیکلې ده. پوره شعر داسې دے:

فریبی فرستد که طاعت کند بیک روم تنها قناعت کند

24.تاریخ مرصع مخ ۳۴۹:

فلک نیست در آغوش تو طراز دو رنگ است بر دوش تو
جهان یک نواله است پیچیده سر درد گاه جلوه بود گه جگر

دا شعرونه افضل خان د رباعي سرخط لاندې راوړي. دا په شرفنامه کښې په مختلفو موضوعاتو کښې بېل بېل راغلي. وړومبے شعر د ''کشته شدن دارا بدست سرهنگان خویش'' عنوان لاندې په۱۰۲ مخ لیکلے. هلته ئې الفاظ داسې دي:

فلک نیست یکسان هم آغوش تو طرازش دو رنگ است بر دوش تو

دوېم شعر د ''لشکر کشیدن دارا بجنگ اسکندر'' عنوان لاندې په۸۴ مخ راغلے. هلته په دوېمه مصرعه کښې د ''درد گاه جلوه بود'' په ځاے ''در و گاه حلوه بود'' لیکلي.

25.تاریخ مرصع مخ ۴۰۲ :

چو در طاس رخشنده افتاد مور رهاننده را چاره باید نه زور

دا شعر په شرفنامه کښې د ''رفتن اسکندر برسولی بنزدیک نوشابه'' عنوان لاندې په۱۳۸ مخ لیکلے.

27.تاریخ مرصع مخ ۴۱۷:

دشمن که به عذرشد زبانش ایمن مشو زدر مرانش

افضل خان دا شعر په تاریخ مرصع کښې دوه ځله نور هم راوړے دے. دویم ځل په **۴۳۴** مخ ، دریم وار په **۵۰۴** مخ. په دې کښې ''ایمن مشو و زدر مرانش'' لیکلي. دا شعر په مثنوي لیلی و مجنون کښې د ''ختم کتاب به نام شروانشاه'' سرخط لاندې په **۲۰۳** مخ لیکلے. دوېمه مصرعه ئې ''ایمن مشو وز در برانش'' لیکلي.

28. تاریخ مرصع مخ **۴۳۳**:

مگر نشنیدی از فراش این راه   که هر کوچه کند افتد دران چاه

دا شعر په مثنوي خسرو شیرین کښې د ''اندرز و ختم کتاب'' سرخط لاندې په **۷۷۰** مخ لیکلے. محقق په اختلاف نسخ کښې لیکلي: ''ج خ د ر: که هر کو. (د: هر که چاه کند.) (خ: چاه افکند) افتاد در چاه. پ: درین''. یعني دغه مصرعه په ځینو نسخو کښې په دې الفاظو هم لیکلې ده.

29. تاریخ مرصع مخ 442:

بیندیش اے حکیم از کار ایام   که پاداش عمل یابی سرانجام

دا شعر مثنوي خسرو شیرین کښې د ''جواب نامۀ شیرین بخسرو جهت تعزیت مریم بطریق طنز'' سرخط لاندې په **۴۲۵** مخ لیکلے. د دې بیت سره لږ فرق لري. بیت داسې لیکلے:

دراندیش ای حکیم از کار ایام   که پاداش عمل باشد سرانجام

د مثنوي خسرو شیرین محقق د دې بیت په حقله په د اختلاف نسخ نۀ دے ذکر کړے. چې له دې نه دا څرگندېږي چې دا بیت په ۱۱ نسخو کښې هېڅ اختلاف نۀ لري.

30. تاریخ مرصع مخ **۴۴۷**:

دولت گیتی که تمنا کند   با که وفا کرد که با ما کند
گه کلک جانورانت کند   گاه گلین کوزه گرانت کند
خاک شد آن سر که درین خاک زیست   خاک چه داند که درین خاک چیست
هر ورقی چهرۀ آزاده ایست   هر قدمی فرق ملک زاده ایست

دا شعرونه مثنوي مخزن الاسرار کښې مقالت سوم کښې د ''در حوادث عالم'' سرخط لاندې په ۱۰۱ مخ داسې راغلي چې دلته شعرونو سره ئې د الفاظو او د ترتیب فرق دے. مخزن الاسرار کښې داسې لیکلي:

صحبت گیتی که تمنا کند   با که وفا کرد که با ما کند
خاک شد آنکس که برین خاک زیست   خاک چه داند که درین خاک چیست
هر ورقی چهرۀ آزاده ایست   هر قدمی فرق ملک زاده ایست
گه ملک جانورانت کند   گاه گل کوزه گرانت کند

دلته چې کوم دریم شعر او څلورم شعر ذکر شوے ، دا یو بل پسې متصل نۀ دي. د دې په مینځ کښې درې بېتونه نور هم دي.

31.تاریخ مرصع مخ ۴۴۸ :

پی گور کز دشت بانان گم است ز نا مردمی های این مردم است
بچشم اندرون مردمک را کلاه هم از مردمان مرد می شد سیاه

افضل خان دا شعرونه په خپله د نظامي یاد کړي. دا شعرونه په مثنوي شرفنامه کښې د "کشته شدن دارا بدست سرهنگان خویش" عنوان لاندې په۱۰۲ مخ داسې راغلي چې یو بل پسې متصل نهٔ دي. مینځ کښې ئې ځلور نور شعرونه هم شته.

32.تاریخ مرصع مخ ۴۴۹:

مپندار کز خون شهنشهان چو خون سیاوش نماند نشان

دا شعر په مثنوي شرفنامه کښې د "فرستادن اسکندر روشنک رابادستور خود بیونان" عنوان لاندې په۱۲۷ مخ راغلے. هلته په وړومبۍ مصرعه کښې د "شهنشهان" په ځاے "گردن کشان" لیکلي.

33.تاریخ مرصع مخ ۴۲۵:

چی باید هراسیدنت ز آن کسے که در خانه دارد ز دشمن بسے

دا شعر په مثنوي شرفنامه کښې د "فرستادن اسکندر روشنک رابادستور خود بیونان" عنوان لاندې په۸۵ مخ راغلے. هلته دوېمه مصرعه داسې لیکلې ده:

که دارد هم از خانه دشمن بسی

34.تاریخ مرصع مخ ۴۷۸:

به بازی نبردم جهان را به سر که شغل دگر بود جز خواب و خور

دا شعر په مثنوي شرفنامه کښې د "در شرف این نامه و تضرع نمودن و نیایش باری" عنوان لاندې په۳۸ مخ راغلے.

35.تاریخ مرصع مخ ۴۷۸:

آنکه بود صلح بنا داشتی خشم خدا باد بر آن آشتی

دا شعر په مخزن الاسرار کښې مقالت هژدهم "دروحشت حاسدان" عنوان لاندې په ۲۱۸ مخ راغلے. هلته وړومبۍ مصرعه داسې لیکلې ده:

چون بودآن صلح زنا داشتی

د مخزن الاسرا محقق په حاشیه اختلاف نسخ په لیکلي : "پ: بنا داشتی". یعني په ځینو نسخو کښې "بنا داشتی" لیکلي.

36. تاریخ مرصع مخ ۴۷۸:

کامۀ وقت اگرچه زجان خوشتراست عاقبت اندیشي از آن خوشترست

دا شعر په محزن الاسرار کښې مقالت نهم "در بزرگ منشی و بلند همتی" عنوان لاندې په ۱۴۷ مخ راغلے. هلته په وړومبۍ مصرعه کښې د "اگرچه" په ځاے "ارچه" لیکلي.

37. تاریخ مرصع مخ ۴۸۷:

تا نه کنی جاے قدم استوار پاے منه درطلب هیچ کار

دا شعر په محزن الاسرار کښې مقالت دوازدهم "در وداع این منزل" عنوان لاندې په ۱۷۱ مخ راغلے.

38. تاریخ مرصع مخ ۵۵۴:

سپردم به تو مایۀ خویش را تو دانی حساب کم و بیش را

افضل خان دا شعر په خپله د نظامي یاد کړے. دا شعر په مثنوي شرفنامه کښې د شروع نه ۱۰۱ نمبر بېت دے. په۲۲ مخ راغلے.

39. تاریخ مرصع مخ ۲۱۲:

بحر بصد دجله شد آرامگیر سیل زیک قطره بر آرد نفیر

دا شعر په محزن الاسرار کښې د "حکایت سلیمان باپیر برزگر" عنوان لاندې په ۱۰۷ مخ راغلے. هلته ئې الفاظ داسې راغلي:

بحر بصد رود شد آرام گیر جوي بیک سیل بر آرد نفیر

محقق په اختلاف نسخ کښې د وړومبۍ مصرعې په حاشیه لیکلي: "رود: ث: جوی." د دوېمې مصرعې په باب لیکي: "جوی: ذ: رود. ج د: زیک". یعني په ځینو نسخو کښې د "بیک" په ځاے "زیک" لیکلي.

نتیجه:

د دې تحقیقي او تنقیدي لیک نه پس دې نتیجې ته رسو چې افضل خان خټک په خپل تالیف "تاریخ مرصع" کښې د نظامي گنجوي۵۹ شعرونه د خپلې خبرې د اثبات دپاره راوړي. په دې ۵۹ شعرونو کښې د ۹ شعرونو متعلق افضل خان په خپله دا وضاحت کړے چې نظامي یا شیخ نظامي فرمائیلي دي. په دې کښې ۲۴ شعرونه د محزن الاسرار، ۳ شعرونه د خسرو و شیرین، ۵ شعرونه د لیلی و مجنون، ۲۲ شعرونه د شرفنامې دي. یو شعر د اقبال نامې دے.

د دې شعرونو په کومو الفاظو کښې چې غلطي او تېروتنه راغلې ده ، د هر شعر سره ئې ذکر شوے دے. په دې کښې ځینې داسې شعرونه هم شته چې د هغې په الفاظو کښې د نظامي گنجوي د تصنیفاتو په نسخو کښې هم یو تر بله فرق شته.

# References

1. H,Subhani,Tawfiq,Dr, Negah e ba Tarikh e Adab Farsi Dar Hend, Entesharat Dabir Khana , Shorai gastareash zuban o adbeyat Farsi, 1st edition, 1377,pages3,4.
2. Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,Rehana tul Adab,volume6, haidri printing press, 1374,pages211,212.
3. Razia, Akbar Hasan, Nezami Ganjavi, National fine printing press,Charkaman, Haider Abad,Publishing year, No, page,7
4. Razia, Akbar Hasan, Nezami Ganjavi, page,15
5. Gopamwi,Muhammad Qadrat Ullah,Tazkera Nataej ul Afkar,Sultani printing press, Bambay 3, 15th edition 1336h,page705.
6. Zanjani,Barat, Preface Haft pekar Nezami, Tashih: Dr Barat Zanjani, Moases entesharat o chap, Danish Gah, Tehran, 2nd editin, Paiz1380,page10.
7. Shebli, Numani, Allam, Swaneh Umri Nezami Ganjavi, Mataba Mujtabaie, Dehli, Publishing year,No, page10.
8. Razia, Akbar Hasan, Nezami Ganjavi, pages,80,81
9. Jawini, Aziz ullah,Dr, Muqaddema, Mashmoola, Khulasa Khamsa Hakim Nezami Ganjavi, Moases entesharat o chap, Danish Gah, Tehran, Mehar Mah1367,page9.
10. Mudarres Tabrezi, Muahammad Ali, Allama,Rehana tul Adab,volume6, pages211,212.
11. Razia, Akbar Hasan, Nezami Ganjavi, page73
12. Ibid, page89
13. Ibid, page112
14. Ibid, page135
15. Ibid, pages170,174
16. Herawi,Nematuulah, Tarikh Khan Jahani o Makhzan e Afghani, Volume1, Tahqeeq: sayed Muhammad Imam ud Din, Asiatic society of Pakistan, Dhaka, June 1960 A.D, page211.
17. Badayooni,Abdul Qader, Muntakhab ut tawarikh, volume1, Batashih: Molavi Ahmad Ali sb, Bamuqadama o ezafat: Tafiq .H. Subhani, Anjaman asar o mafakher Farhangi, Tehran, 1st edition 1380,page223.
18. Abdullah, Tarikh e Daudi, (Pashto Translation) Translated by: Dr Abdul Latif Yad Talibi, Danish publishers,Peshawar,1385/2007,page136
19. Dehkhuda,Ali Akbar, Amsal o hekam, volume2, sapar publishers, Tehran, 6th edition 1363,page 834